DTM AFGHANISTAN

# د تحرکاتو بنستیزه ارزونه

خوست
د پایلي لنډيز
اوم پړاو . اکتوبر - ډسمبر ۲۰۱۸



دا کورنۍ په مندوزي ولسوالۍ کې د ۶۳۳ راستنېدونکو او داخلي بېځایه شویو په شان پناه ځای نلري او خیمې کې ژوند کوي. © ۲۰۱۸ IOM

## د بېځایه کېدوونکو د تعقیب سیستم (DTM)

د بېځایه کېدوونکو د تعقیب سیستم داسې یو سیستم دی چې د خلکو د بېځایه کېدنې او تحرک له بهیر څخه تعقیب او څارنه کوي. دا سیستم په سیستماټیک ډول د معلوماتو راټولولو، پراسس کولو او خپرولو لپاره جوړ شوی ترڅو وکولای شي د تحرکاتو او په سیمه او یا لاره کې د بېځایه شویو خلکو هغه اړتیاوو په هکله چې د بدلون په حال کې دي ښه پوهاوی منځ ته راولي. د DTM په اړه د لا زیاتو معلوماتو لپاره .www.displacement iom.int/afghanistan څخه کتنه وکړئ.

په افغانستان کې، DTM د تحرک د ارزونې بنستیزه وسیله کاروي ترڅو د تحرکاتو څخه څارنه، د جبري بېځایه شویو کسانو د نفوس کچه او موقعیت تشخیص، د بېځایه کېدو علت، اصلی سیمې، د بېځایه کېدو مهال، لومړني ډیموګرافیکي معلومات، زیاتمنتیاوې او د اړتیاوو د لومړیتوبونو څخه څارنه وکړي. معلومات د کلیو په کچه د ډله ایزو بحثونو، مخامخ کتنو او کلیدي معلوماتو ورکوونکو سره د مرکې له لارې راټولېږي.

DTM پروګرام، د کډوالۍ نړیوال سازمان او ملګري سازمانونو ته دا پیاوړتیا ورکوي چې سرچینې په اعظمي توګه لوړې کړي او لومړیتوبونه وټاکي ترڅو د شواهدو پر بنسټ هدفمند، دوامداره او د حرکت پر وړاندې د پایدارو او حساسو بشردوستانه مرستو پروګرامونه وړاندې کړي او د ټولنې د بیا یوځای کېدنې، ثبات او پراختیا څخه ډاډ ترلاسه شي.

## ۵ د موخې وړ جمعیتونه

DTM د تحرکاتو بنستیزې ارزونې له لارې د لاندې ۵ اساسي جمعیتونو کټګوریو موقعیت، نفوس او څو سکتوریزې اړتیاوې څاري:

۱. بهرنیو هېوادونو څخه راستنېدونکي

هغه افغانان چې لږ تر لږه د ۶ میاشتو لپاره د هیواد څخه بهر اوسېدلي وي او اوس راستانه شوي وي

۲. بهرنیو هېوادونو ته کډوال شوي کسان

هغه افغانان چې بهرنیو هېوادونو ته تللي او یا کډه یې کړې وي

داخلي بېځایه شوي په لاندې درېو کټګوریو وېشل شوي دي:

۳. داخلي بېځایه شوي چې خپلې اصلي سیمې یې پرېښي

د ارزول شویو کلیو څخه هغه افغانان چې د داخلي بېځایه شویو په توګه یې خپلې سیمې پرېښي ترڅو د افغانستان دننه په یوې بلې سیمې کې ژوند وکړي

۴. رارسېدلي داخلي بېځایه شوي کسان

د نورو سیمو څخه داخلي بېځایه شوي کسان چې اوسمهال په یوه ارزول شوي کلي کې ژوند کوي

۵. راستانه شوي داخلي بېځایه شوي کسان

هغه افغانان چې د ارزول شویو کلیو څخه پخوا د داخلي بېځایه شویو په توګه تللي ول او اوسمهال خپلو کورونو ته بېرته ستانه شوي دي

۵ د موخې وړ جمعیتونو لپاره د نفوس د کچې معلومات د هغوی د بېځایه کېدنې پر مهال د دې زماني جوړښت پر بنسټ راټولېږي: ۲۰۱۲-۲۰۱۵ . ۲۰۱۶ . ۲۰۱۷ . ۲۰۱۸

## لنډه کتنه

**۱۳** ولسوالۍ وارزول شوې
**۵۹۱** کلي وارزول شول

**۳،۱۷۲**
کلیدي معلوماتو ورکوونکو سره مرکه ترسره شوه

**۷۶،۵۴۲**
بهرنیو هېوادونو څخه راستنېدونکي [۲۰۱۲-۲۰۱۸]

**۶۷،۷۰۴**
داخلي بېځایه شوي کسان په کوربه ټولنو کې ژوند کوي [۲۰۱۲-۲۰۱۸]

**۱۶،۱۷۳**
پخواني داخلي بېځایه شوي کسان اوس خپلو سیمو ته بېرته ستانه شوي[۲۰۱۲-۲۰۱۸]

**۲۴،۷۵۵**
کسان د هېواد څخه بهر ته کډوال شوي [۲۰۱۲-۲۰۱۸]

**۹۹۸**
کسان اروپایي هېوادونو ته کډوال شوي (د ټولټال کډوالو له ډلې ۴٪)

**۶۳۳**
راستنیدونکي او داخلي بېځایه شوي په خېمو او یا آزاده فضا کې ژوند کوي

**۵ څخه ۱**
کس په خوست ولایت کې یا داخلي بېځایه شوی دی او یا هم راستنېدونکی

**۵ څخه ۲**
کسان د ټولو راستنېدونکو او داخلي بېځایه شویو له ډلې په خوست (متون) ولسوالۍ کې ژوند کوي (۴۳٪)

**۴ څخه ۳**
بهرنیو هېوادونو څخه راستنېدونکي له پاکستان څخه راغلي (۷۲٪)

**۵ څخه ۱**
کورنۍ په جاجي میدان ولسوالۍ کې ښوونځیو ته لاسرسی نلري (۲۰٪)

**۱۹,۲۵۸**
کسان په خوست (متون) ولسوالۍ کې روغتیایي خدماتو ته اړتیا لري

**۹۴۲**
کسان په جاجی میدان ولسوالۍ کې د څښاک اوبو ته هېڅ لاسرسی نلري

## په ټولو ۵ د موخې وړ جمعيتونو کې بېځايه شوي کسان | د ولسواليو په کچه لنډه کتنه

| ولسوالۍ | * مجموعي نفوس | ټولټال راغلي کسان (راستنېدونکي + رارسېدلي داخلي بېځايه شوي) | د نفوس سلنه | له بهرنيو هېوادونو څخه راستنېدونکي | د نفوس سلنه | داخلي بېځايه شوي چې خپلې اصلي سيمې يې پرېښې | د نفوس سلنه | رارسېدلي داخلي بېځايه شوي کسان | د نفوس سلنه | راستانه شوي داخلي بېځايه شوي کسان | د نفوس سلنه | بهرنيو هېوادونو ته کډوال شوي کسان | د نفوس سلنه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| خوست (مَتون) | ۱۵۰,۵۹۹ | ۶۱,۶۹۱ | ٪۲۹ | ۲۱,۰۸۸ | ٪۱۰ | ۸,۲۹۱ | ٪۶ | ۴۰,۶۰۳ | ٪۱۹ | ۲,۶۷۵ | ٪۲ | ۵,۷۹۱ | ٪۴ |
| صبري | ۷۷,۳۷۴ | ۴,۹۹۶ | ٪۶ | ۲,۱۷۸ | ٪۳ | ۲,۵۱۹ | ٪۳ | ۲,۸۱۸ | ٪۳ | ۷۰۳ | ٪۱ | ۱,۳۶۰ | ٪۲ |
| موسی خېل | ۴۴,۷۸۱ | ۴,۰۱۸ | ٪۸ | ۳,۶۷۶ | ٪۸ | ۴,۸۳۰ | ٪۱۱ | ۳۴۲ | ٪۱ | ۲۰۰ | ٪۰ | ۵۹۱ | ٪۱ |
| نادرشاه کوت | ۳۴,۷۷۳ | ۵,۷۷۵ | ٪۱۴ | ۴,۰۵۵ | ٪۱۰ | ۱,۵۹۱ | ٪۵ | ۱,۷۲۰ | ٪۴ | ۶۵۸ | ٪۲ | ۱,۰۵۱ | ٪۳ |
| مندوزائی | ۶۱,۵۹۱ | ۱۲,۵۲۰ | ٪۱۷ | ۴,۷۲۷ | ٪۶ | ۲,۸۹۹ | ٪۵ | ۷,۷۹۳ | ٪۱۱ | ۱,۱۴۴ | ٪۲ | ۱,۸۸۷ | ٪۳ |
| تنی | ۶۵,۰۵۶ | ۱۹,۹۸۶ | ٪۲۴ | ۱۵,۹۶۲ | ٪۱۹ | ۷,۶۰۸ | ٪۱۲ | ۴,۰۲۴ | ٪۵ | ۴,۱۶۰ | ٪۶ | ۴,۴۳۵ | ٪۷ |
| ګربز | ۲۸,۶۱۵ | ۱۵,۰۲۶ | ٪۳۴ | ۱۱,۱۶۲ | ٪۲۶ | ۲,۰۵۱ | ٪۷ | ۳,۸۶۴ | ٪۹ | ۲,۶۸۴ | ٪۹ | ۲,۵۵۱ | ٪۹ |
| تيرزائی | ۴۸,۷۶۰ | ۶,۰۶۷ | ٪۱۱ | ۴,۲۴۲ | ٪۸ | ۳,۲۰۱ | ٪۷ | ۱,۸۲۵ | ٪۳ | ۱,۲۳۹ | ٪۳ | ۲,۲۸۵ | ٪۵ |
| قلندر | ۱۱,۱۶۳ | ۱,۶۰۵ | ٪۱۳ | ۱,۴۶۹ | ٪۱۲ | ۴,۴۳۳ | ٪۴۰ | ۱۳۶ | ٪۱ | ۴۵۱ | ٪۴ | ۷۲۷ | ٪۷ |
| شمل | ۱۴,۸۸۴ | ۲,۹۵۸ | ٪۱۷ | ۲,۴۲۹ | ٪۱۴ | ۲,۲۶۳ | ٪۱۵ | ۵۲۹ | ٪۳ | ۱,۰۴۶ | ٪۷ | ۳۸۸ | ٪۳ |
| سپېره | ۲۶,۵۶۱ | ۱,۴۷۳ | ٪۵ | ۱,۱۸۷ | ٪۴ | ۲,۵۱۴ | ٪۹ | ۲۸۶ | ٪۱ | ۶۶۹ | ٪۳ | ۲۷۱ | ٪۱ |
| باک | ۲۴,۱۲۳ | ۳,۷۲۵ | ٪۱۳ | ۲,۱۰۸ | ٪۸ | ۱,۴۰۲ | ٪۶ | ۱,۶۱۷ | ٪۶ | ۲۶۷ | ٪۱ | ۱,۷۸۷ | ٪۷ |
| جاجي میدان | ۲۶,۳۰۴ | ۴,۴۰۶ | ٪۱۴ | ۲,۲۵۹ | ٪۷ | ۱,۷۱۴ | ٪۷ | ۲,۱۴۷ | ٪۷ | ۲۷۷ | ٪۱ | ۱,۶۳۱ | ٪۶ |
| مجموعه | ۶۱۴,۵۸۴ | ۱۴۴,۲۴۶ | ٪۱۹ | ۷۶,۵۴۲ | ٪۱۰ | ۴۵,۳۱۶ | ٪۷ | ۶۷,۷۰۴ | ٪۹ | ۱۶,۱۷۳ | ٪۳ | ۲۴,۷۵۵ | ٪۴ |

* د نفوسو معلوماتي سرچينه: د ۱۳۹۷ (۲۰۱۸ – ۲۰۱۹) کال په اړه د احصائي او معلوماتو ملي اداري (*NSIA*) اټکل

سيمبولوجي: د موخې وړ جمعيت ≥ ۲۰۰,۰۰۰ د نفوس سلنه ≥ ۲۵٪



دا ۶ ماشومان ګربز ولسوالۍ کې په يوې ښوونځۍ کې په ځمکه ناست دي او ټول د يو کتاب شاوخوا راټول دي. د ښوونځۍ د زېربنا سر بېره درسي کتابونو او موادو ته د لاسري محدوديت د زدکړې پر وړاندې لوی خنډ دی. © IOM ۲۰۱۸

## تګلاره

د بېځايه کېدوونکو د تعقیب سیسټم د تحرکاتو بنسټيزې ارزونې اصلي موخه په افغانستان کې د تحرکاتو او بېځايه کېدنې تعقیب دی ترڅو وکولای شي د بېځايه کېدوونکو، راستنېدونکو، کډوالو، پناه غوښتونکو، مرزي قبیله وي ډلو، کوچیانو او نړیوالو کارګرانو د نفوس، موقعیت او جغرافیاوي تقسیماتو په هکله اټکلونه وکړي. سربېره پر دې DTM د تحرکاتو په اړه نور معلومات هم راټولوي چې په دې معلوماتو کې د بېځايه کېدنې او راستنېدو لاملونه، اصلي او د موخې سیمې، د بېځايه کېدنې او راستنېدو مهال، بیاځلي بېځايه کېدنه، د جمعیتونو شمېر، د زیانمنتیا کچه او اولیه اړتیاوې شاملېږي.

DTM په عمده ډول د یوې سیمې د ارزونې لپاره د هماغې سیمې وګړي د سیمه ایزو کارکوونکو په توګه په کار ګماري. دا کارکوونکي له کلیدي معلومات ورکوونکو سره د ډله ایزو بحثونو له لارې د کلیو په کچه کمیټې معلومات راټولوي. سیمه ایز کارکوونکي د مستقیمو کتنو له لارې هم د ژوند شرایط، لومړني خدمات، امنیت او ټولنیز-اقتصادي حالت په اړه کیفي معلومات راټولوي.

د امنیتي خطرونو له امله سیمه ایز کارکوونکي نشي کولای سیمې ته سمارټ ټیلیفونونه یا ټابلیټونه انتقال کړي له همدې امله دوی هره ورځ د یوې کاغذي فورمې په وسیله معلومات راټولوي. په دې فورمه کې د تېر پړاو راټول شوي معلومات هم شتون لري ترڅو د موجوده معلوماتو له شتون څخه تایید وشي او د ارزونې پروسه په ګړندیتوب سره پر مخ ولاړه شي. بشپړې شوې فورمې هره اونۍ د DTM ولایتي دفتر ته سپارل کېږي ترڅو د ټیم مشر او د معلوماتو راجستر کوونکي له لوري ترې کتنه او تصویب وشي. کله چې دا فورمې تایید شوې نو د موبایلونو په مرسته په الکترونکي توګه د کوبو فورمونو له کارولو سره په مستقیم ډول د DTM مرکزي SQL کې چې په کابل کې دی ځای پرځای کېږي. وروسته بیا دا ډېټا یا معلومات هم په اتومات او هم په انفرادي توګه هره ورځ تصفیه او تایید کېږي. دا دقیقه بیاکتنه ډاډ ترلاسه کوي چې د DTM ډېټا ترټولو لوړ کیفیت، دقت او صداقت ولري.

کله چې د DTM د لومړي ځل لپاره په یو ولایت کې ارزونه ترسره کوي نو ساحوي کارکوونکي معلومات یا ډېټا په دوه پړاونو کې چې دوه برخې لري راټولوي:

١. د ولسوالۍ په کچه ارزونه (B1): د دې ارزونې موخه د هغو کلیو پېژندنه ده چې ترټولو زيات افغان وګړي ورته تللي او یا ترې وتلي وي او د موخې ړو جمعیتونو شمېر په هکله اټکل کوي.

٢. د کلیو په کچه ارزونه (B2): دا ارزونه د B1 ارزونې د پایلو پر بنسټ د راغلیو او تللیو افغان وګړو په اړه د موخې ړو جمعیتونو لپاره په هغو کلیو کې معلومات راټولوي چې د B1 په ارزونه کې پېژندل شوي ول. د کلیدي معلومات ورکوونکو د راجع کولو وروسته نوي کلي هم تشخيص او ارزول کېږي.

څکه چې DTM ټول ۳۴ ولایتونه ارزولي دي په راتلونکي کې به یوازې د کلیو په کچه ارزونې ترسره شي. DTM په پام کې لري چې په کال کې به دوه ځلې د هېواد په کچه د تحرکاتو بنسټيزې ارزونې ترسره کړي چې دا کار د بودجې د دوام پورې اړوند دی.

## کلیدي معلومات ورکوونکي

د DTM ساحوي کارکوونکي د کلیو په کچه معلومات له کلیدي معلومات ورکوونکو څخه د ډله ایزو بحثونو له لارې راټولوي. ساحوي کارکوونکي د ټولنې د ارزونې پر مهال د ژوندانه شرایط او د خوسکتوریزو خدمتونو شتون هم ارزوي. په لړو مواردو کې داسې کېږي چې د امنیتي اندېښنو او یا د دولت د مخالفینو ډلو د بریدونو له امله، د DTM سیمه ایز کارکوونکي نشي کولای سیمې ته ولاړ شي نو غوښتونکي او ډله ایز بحثونه د کلیو څخه بهر یا په خوندیو سیمو کې ترسره کوي او یا هم ارزونې د موبایل له لارې مخکې وړي.

DTM پروګرام په فعاله توګه وکولای شو د ښځینه کارکوونکو له ګمارلو سره په ډله ایزو بحثونو کې د جندر د شمولیت د لا ښه کولو لپاره لوی ګام واخلي، که څه هم دا یو ننګونکی کار وه. سره له دې اوس هم پرمختګ ته اړتیا شته. که څه هم په خوست ولایت کې د کلیدي معلوماتو ورکوونکو له ډلې څخه یوازې ٠,٠٣٪ یې ښځې دي.

**٣,١٧٢** کلیدي معلومات ورکوونکو سره مرکه ترسره شوه

**٤٦٩** کلیدي معلومات ورکوونکي یا راستنیدونکي دي او یا هم داخلي بېځایه شوي (١٥٪)

**١** ښځینه کلیدي معلومات ورکوونکي (٠,٠٣٪)

**٦٧٩** له کوربه ټولنو څخه کلیدي معلومات ورکوونکي (٢١٪)


**٣,١٧١** نارینه کلیدي معلومات ورکوونکي (٩٩,٩٧٪)

**٧٥٤** خوسکتوریزو او ټولنیزو خدماتو څخه کلیدي معلومات ورکوونکي (٢٤٪)


**٥,٤** په هرې ډله ایزې مرکې کې د کلیدي معلومات ورکوونکو اوسط شمېر

**٦٨٦** له سیمه ایزو چاراوکو څخه کلیدي معلومات ورکوونکي (٢٢٪)

د ډول پر بنسټ کلیدي معلومات ورکوونکي | خوست




د ډول او جنسیت پر بنسټ کلیدي معلومات ورکوونکي | خوست



# بهرنیو هېوادونو څخه راستنېدونکي

راستنېدونکي هغه افغانان دي چې په بهرنیو هېوادونو کې لږترلږه د شپږو میاشتو تېرولو وروسته بېرته افغانستان ته ستانه شوي او په ارزول شویو سیمو کې ځای پر ځای شوي وي. راستنېدونکي دوه ډوله دي: اسناد لرونکي راستنېدونکي (هغه کډوال چې په کوربه هیوادونو کې راجستر شوي وي او وروسته بیا UNHCR او اړوند حکومتي چارواکو ته یي د رضاکارانه راستنېدلو غوښتنه کړې وي) او اسناد نلرونکي راستنېدونکي (هغه افغانان چې په خپله خوښه راستانه شوي او یا شړل شوي دي، پرته له دې چې دا په پام کې ولرو چې له UNHCR او اړوند حکومتي چارواکو سره ثبت ول او که نه).

بهرنیو هېوادونو څخه خوست ولایت ته د راستنېدونکو شمېر د ۲۰۱۲-۲۰۱۵ دورې په پرتله په ۲۰۱۶ کال کې ۶۶٪ کموالی ښیي او په ۲۰۱۷ کال کې د ۲۰۱۶ کال په پرتله ۳۹٪ کموالی لیدل کېږي. په ۲۰۱۸ کال کې د ۲۰۱۷ کال په پرتله ۸۵٪ کموالی لیدل کېږي.

**۷۶،۵۴۲**
بهرنیو هېوادونو څخه راستنیدونکي


**۵۵،۱۵۸**
پاکستان څخه راستنېدونکي (۷۲٪)


**۴۳،۲۹۴**
له ایران + پاکستان څخه اسناد نلرونکي راستنیدونکي (۷۸٪)


**۶۴**
ایران څخه راستنیدونکي (۰,۰۸٪)


**۱۱،۹۲۸**
له ایران + پاکستان څخه اسناد لرونکي راستنیدونکي (۲۲٪)


**۲۱،۳۲۰**
غیر ګاونډیو هیوادونو څخه راستنیدونکي (۲۷,۹۲٪)




# رارسېدلي داخلي بېځايه شوي کسان

دا کسان هغه افغانان دي چې د نا امنۍ یا وسله والو جګړو، تاوتریخوالی، د بشري حقونو سرغړونې، د خوندیتوب اندیښنې او د طبیعي پېښو یا د انسان په لاس جوړې شویو پېښو څخه د خوندیتوب په موخه خپلو سیمو څخه بېځایه شوي دي او ارزول شوي/ کوربه ټولنو ته تللي او هلته ژوند کوي.

**۶۷،۷۰۴**
په کوربه ټولنو کې مېشت داخلی بېځایه شوي کسان

**۸۶٪**
د کړکېچ له امله بېځایه شوي

**۴۰،۶۰۳**
خوست (متون) ولسوالی کې مېشت داخلي بېځايه شوي کسان– د ولایت په کچه تر ټولو لوړ شمېر


**۱۴٪**
د طبیعي پېښو له امله بېځایه شوي

**۱۰۴،۲۹۵**
داخلي بېځايه شوي په غیر رسمي سیمو کې مېشت دي (۶٪)


**۵۲٪**
په خپل اصلي ولایت کې بېځایه شوي

*دا چې په غیر رسمي سیمو کې مېشت کسانو شمېر د دې ولایت ۶۷،۷۰۴ داخلي بېځایه شویو شمېر څخه لوړ دی لامل یې دا دی چې په دې سیمو کې کېدای شي د ۲۰۱۲ کال څخه پخوا نه تر اوسه پورې ځینې داخلي بېځایه شوي کسان پاتې ووسي او شایې چې پاکستاني کډوال او راستنېدونکي هم هلته ووسي.


رارسېدلي داخلي بېځايه شوي کسان | کلنی بهیر | خوست





د اصلي ولایت پر بنسټ رارسېدلي داخلي بېځايه شوي کسان | خوست





د ولسوالی پر بنسټ رارسېدلي داخلي بېځايه شوي کسان | خوست




د ولسوالی پر بنسټ غیر رسمي سیمو کې مېشت داخلي بېځايه شوي کسان | خوست




رارسېدلي داخلي بېځايه شوي کسان | پناه ځای | خوست




# ټولټال راغلي کسان (راستنېدونکي + رارسېدلي داخلي بېځايه شوي)

په عمومي توګه خوست ولایت له ټولټال ۱۴۴،۲۴۶ راستنېدونکو او داخلي بېځایه شویو څخه کوربه توب کوي چې ٪۵۳ (۷۵،۵۴۲ کسان) راستنېدونکي او ٪۴۷ (۶۷,۷۰۴ کسان) داخلي بېځایه شوي دي. په لاندې جدول کې د خوست ولایت ۲۰ کلي ښودل شوي چې ترټولو زیاتو بېځایه شویو او راستنېدونکو راتګ څخه اغیزمن شوي. دا ۲۰ کلي (د خوست ولایت ۵۹۱ ارزول شویو کلیو څخه ٪۳) د ټول ولایت ٪۲۵ راستنېدونکو او داخلي بېځایه شویو څخه کوربه توب کوي. دا کلي د ټولنو بې ثباتۍ پر وړاندې چې د راستنېدونکو او داخلي بېځایه شویو لوړ شمېر راتګ سره رامنځ ته شوې حساس او زیانمن دي او دا کار له پخوا نه محدودې شوې سرچینې او کاري فرصتونو لا نور هم محدود کوي. له دې ۲۰ زیانمنو کلیو څخه ۱۲ کلي یې په خوست (متون) ولسوالۍ کې موقعیت لري او د دې جدول ٪۶۹ (۲۲,۳۶۸) راستنېدونکو او داخلي بېځایه شویو څخه کوربه توب کوي.


## ۲۰ لومړني کلي چې تر ټولو زیات راستنېدونکي او داخلی بېځایه شوي لري

| ردہ بندی | کلي | ولسوالۍ | وګړي |
|---|---|---|---|
| ۱ | وچه خوړه | خوست (مَتون) | ۶,۱۷۲ |
| ۲ | قلم وال مینه | خوست (مَتون) | ۴,۲۹۵ |
| ۳ | مرکز ولسوالی دورګی | تنی | ۲,۱۵۰ |
| ۴ | منی کلی | خوست (مَتون) | ۱,۷۶۴ |
| ۵ | خنی خور | خوست (مَتون) | ۱,۷۶۳ |
| ۶ | مشکین | نادرشاه کوټ | ۱,۵۷۰ |
| ۷ | خارګی کلی | ګربز | ۱,۵۰۳ |
| ۸ | ۱۲۰۰ فامیلو | خوست (مَتون) | ۱,۴۰۱ |
| ۹ | پیرانو کلی (۱) | خوست (مَتون) | ۱,۲۲۷ |
| ۱۰ | چراګاه | مندوزائی | ۱,۱۹۴ |
| ۱۱ | بوری کلی | ګربز | ۱,۰۶۳ |
| ۱۲ | دب کلی | خوست (مَتون) | ۱,۰۶۲ |
| ۱۳ | منده کلی | خوست (مَتون) | ۱,۰۳۵ |
| ۱۴ | ماته چینه | خوست (مَتون) | ۹۵۳ |
| ۱۵ | پنځه | خوست (مَتون) | ۹۱۰ |
| ۱۶ | ګوده خره | خوست (مَتون) | ۹۰۰ |
| ۱۷ | دو سرکه میلان | مندوزائی | ۸۹۱ |
| ۱۸ | سرو کلی (۱) | مندوزائی | ۸۸۶ |
| ۱۹ | تپه | خوست (مَتون) | ۸۷۶ |
| ۲۰ | دیلپوري | مندوزائی | ۸۵۵ |
| | | مجموعه | ۳۲,۴۷۰ |





## ټولټال راغلي کسان (راستنېدونکي + داخلي بېځايه شوي) د ولسوالۍ پر بنسټ لنډیز

| ولسوالۍ | راستنېدونکي | رارسېدلي داخلي بېځايه شوي | ټولټال راغلي کسان |
|---|---|---|---|
| خوست (مَتون) | ۲۱,۰۸۸ | ۴۰,۶۰۳ | ۶۱,۶۹۱ |
| تنی | ۱۵,۹۶۲ | ۴,۰۲۴ | ۱۹,۹۸۶ |
| ګربز | ۱۱,۱۶۲ | ۳,۸۶۴ | ۱۵,۰۲۶ |
| مندوزائی | ۴,۷۲۷ | ۷,۷۹۳ | ۱۲,۵۲۰ |
| تیرزائی | ۴,۲۴۲ | ۱,۸۲۵ | ۶,۰۶۷ |
| نادرشاه کوټ | ۴,۰۵۵ | ۱,۷۲۰ | ۵,۷۷۵ |
| صبري | ۲,۱۷۸ | ۲,۸۱۸ | ۴,۹۹۶ |
| جاجي میدان | ۲,۲۵۹ | ۲,۱۴۷ | ۴,۴۰۶ |
| موسی خیل | ۳,۶۷۶ | ۳۴۲ | ۴,۰۱۸ |
| باک | ۲,۱۰۸ | ۱,۶۱۷ | ۳,۷۲۵ |
| شمل | ۲,۴۲۹ | ۵۲۹ | ۲,۹۵۸ |
| قلندر | ۱,۴۶۹ | ۱۳۶ | ۱,۶۰۵ |
| سپیره | ۱,۱۸۷ | ۲۸۶ | ۱,۴۷۳ |
| عمومي مجموعه | ۷۶,۵۴۲ | ۶۷,۷۰۴ | ۱۴۴,۲۴۶ |



د ولسوالۍ پر بنسټ ټولټال راغلي کسان (راستنېدونکي + رارسېدلي داخلي بېځایه شوي)



د راستنېدونکو د موخې ور ولسوالۍ ګانې

# داخلي بېځايه شوي چې خپلې اصلي سيمې يې پرېښي

دا هغه افغانان دي چې لـه يـوې ارزول شـوې سـيمې څخـه چې هلته يـې پخوا ژونـد کاوه د افغانسـتان دننـه يـوې بلـې سـيمې ته تلـلي دي تر څو د وسـلـه والـو جګـړو، تاوتريخوالي، د بـشري حقونـو سرغړونـې، د خونديتوب اندېښنـې او طبيعي پېښـو يا د انسان پـه لاس جوړو شـويو پېښـو څخه خوندي ووسي.


**۴۵،۳۱۶** داخلي بېځايه شوي چې خپلې اصلي سيمې يې پرېښي

**۷۳٪** په عين ولايت کې نورو سيمو ته تللي دي


**۷۰٪** د کړکېچ له امله بېځايه شوي


**۳۰٪** د طبيعي پېښو له امله بېځايه شوي

داخلي بېځايه شوي کسان چې خپلې اصلي سيمې يې پرېښي | کلنۍ بهير | خوست




د ولسوالۍ پر بنسټ داخلي بېځايه شوي کسان چې خپلې اصلي سيمې يې پرېښي | خوست



# راستانه شوي داخلي بېځايه شوي کسان

راسـتانه شـوي داخلي بېځايـه شـوي هغـه افغانـان دي چـې خپلو سـيمو تـه چې ارزول شـوي سـيمي دي او پخوا يې پرېښـي وي بېرته سـتانه شـوي دي. دوی پخوا له دې سـيمو څخه تللي ول ترڅـو د وسـله والـو جګړو، تاوتريخوالي، د بشري حقونو سرغړونې، د خوندیتوب اندېښـنې او طبيعي پېښـو يـا د انسـان په لاس جوړ شـويو پېښـو لـه اغېزو څخه خونـدي ووسي.


**۱۶،۱۷۳**
راستانه شوي داخلي بېځايه شوي

**۷۶٪**
وګړي د ولايت دننه نورو سيمو څخه راستانه شوي


**۵ څخه ۳**
پخواني داخلي بېځايه شوي کسان يوازې ۳ ولسواليو ته راستانه شوي: تنی، ګربز او خوست متون (۵۹٪)


**۴ څخه ۱**
د ټولو راستانه شويو داخلي بېځايه شويو له ډلې ۲۶٪ کسان تنی ولسوالۍ ته راستانه شوي

د ولسوالی پر بنسټ راستانه شوي داخلي بېځايه شوي کسان | خوست




راستانه شوي داخلي بېځايه شوي کسان | کلنی بهير | خوست



د راستانه شويو داخلي بېځايه شويو د راستنېدو ولسوالۍ ګاني

# بهرنیو هېوادونو ته کډوال شوي کسان

دا هغه افغانان دي چې له یوې ارزول شوې سیمې څخه د هر دلیل، عامل او یا مودې لپاره له هېواد څخه بهر تللي او یا کډوال شوي دي. په دې کټګورۍ کې پناه غوښتونکي، بېځایه شوي کډوال او هغه کسان شاملیږي چې افغانستان یې د اقتصادي ستونزو له امله پرېښې وي.


**۲۴،۷۵۵** د هېواد څخه بهر تللي دي

**۹۹۸** اروپايي هېوادونو ته تللي دي (۴٪)


**۰** ایران ته تللي دي

**۱،۵۴۵** پاکستان ته تللي دي (۶٪)


بهرنیو هېوادونو ته کډوال شوي کسان | کلنۍ بهیر | خوست





د ولسوالۍ پر بنسټ بهرنیو هېوادونو ته کډوال شوي کسان | خوست





ترکیه او اروپایی هېوادونو ته کډوال شوي کسان | کلنۍ بهیر | خوست




پاکستان ته کډوال شوي کسان | کلنۍ بهیر | خوست




د هېواد پر بنسټ بهرنیو هېوادونو ته کډوال شوي کسان/د موخې سیمه | خوست



# سکټوریزې اړتیاوې

## ۵ لومړیتوب لرونکې ولسوالۍ

مرستو او لومړنیو خدمتونو لپاره د شواهدو پر بنسټ لومړیتوب ورکول اړین دي. DTM د ولایت، ولسوالۍ او کلیو په کچه، د څو شاخصه سکټورونو پر بنسټ همکارو سازمانونو ته د لومړیتوب لرونکو سیمو یا د هغو سیمو لسټ چمتو کوي چې ترټولو زیات مرستو ته اړتیا لري.

(یاددښت: د هغو کسانو شمیر چې لاندې یې راپور ورکړ شوی د ټولټال راغلیو کسانو (داخلي بېځایه شوي+ راستنېدونکي) پر بنسټ دی).

### پنځه لومړنۍ ولسوالۍ چې تر ټولو زیات راستنېدونکي او داخلي بېځایه شوي لري (راستنېدونکي + داخلي بېځایه شوي)

| رده بندي | ولسوالۍ | وګړي |
|---|---|---|
| ۱ | خوست (متون) | ۶۱,۶۹۱ |
| ۲ | تنی | ۱۹,۹۸۶ |
| ۳ | ګربز | ۱۵,۰۲۶ |
| ۴ | مندوزائی | ۱۲,۵۲۰ |
| ۵ | تیرزائی | ۶,۰۶۷ |
| | عمومي مجموعه | ۱۱۵,۲۹۰ |

### پنځه لومړنۍ ولسوالۍ چې پناه ځای ته اړتیا لري (راستنېدونکي+داخلي بېځایه شوي چې په خېمو او آزاده فضا کې ژوند کوي)

| رده بندي | ولسوالۍ | وګړي |
|---|---|---|
| ۱ | ګربز | ۴۴۸ |
| ۲ | نادرشاه کوت | ۱۵۲ |
| ۳ | خوست (متون) | ۲۵ |
| ۴ | مندوزائی | ۷ |
| ۵ | شتون نلري | شتون نلري |
| | عمومي مجموعه | ۶۳۳ |

### پنځه لومړنۍ ولسوالۍ چې د څښاک اوبو ته اړتیا لري (د څښاک اوبه > ۳ کیلومتره لرې)

| رده بندي | ولسوالۍ | وګړي |
|---|---|---|
| ۱ | جاجي میدان | ۹۴۲ |
| ۲ | خوست (متون) | ۷۸۱ |
| ۳ | شتون نلري | شتون نلري |
| ۴ | شتون نلري | شتون نلري |
| ۵ | شتون نلري | شتون نلري |
| | مجموعه کلی | ۱,۷۲۳ |

### پنځه لومړنۍ ولسوالۍ چې روغتیايي ځانګو ته اړتیا لري (تر ټولو نیږدې کلینیک >۵ کیلومتره لرې)

| رده بندي | ولسوالۍ | وګړي |
|---|---|---|
| ۱ | خوست (متون) | ۱۹,۲۵۸ |
| ۲ | ګربز | ۶,۵۹۱ |
| ۳ | تنی | ۵,۰۷۹ |
| ۴ | صبری | ۳,۶۲۱ |
| ۵ | جاجي میدان | ۲,۶۰۷ |
| | مجموعه کلی | ۳۷,۱۵۶ |


### پنځه لومړنۍ ولسوالۍ چې ښوونځۍ ته اړتیا لري (تر ټولو نیږدې ښوونځۍ >۳ کیلومتره لرې)

| رده بندي | ولسوالۍ | وګړي |
|---|---|---|
| ۱ | خوست (متون) | ۱,۰۱۶ |
| ۲ | ګربز | ۹۲۲ |
| ۳ | جاجي میدان | ۸۶۱ |
| ۴ | سپیره | ۵۰۴ |
| ۵ | صبری | ۲۷۱ |
| | مجموعه کلی | ۳,۵۷۴ |

### پنځه لومړنۍ ولسوالۍ چې بازار ته اړتیا لري (تر ټولو نیږدې بازار > ۱۰ کیلومتره لرې)

| رده بندي | ولسوالۍ | وګړي |
|---|---|---|
| ۱ | قلندر | ۸۱ |
| ۲ | شتون نلري | شتون نلري |
| ۳ | شتون نلري | شتون نلري |
| ۴ | شتون نلري | شتون نلري |
| ۵ | شتون نلري | شتون نلري |
| | مجموعه کلی | ۸۱ |

ټولټال راغلي کسان (راستنېدونکي + داخلي بېځایه شوي) | پناه ځای | خوست




## د یوه بېځایه شوي کیسه

### له بېوځلۍ څخه نورو ته مرسته رسولو پورې

۴۳ کلنه بي بي حکیمه د ۹ ماشومانو مور ده چې له پاکستان څخه راستنه شوې او اوس په خوست ولایت کې اوسېږي. د کورنۍ جګړې په جریان کې هغې د خپل مېړه محمد سرور سره کور پرېښوده او پاکستان ته ولاړه، چیرې چې هغوی د کډوالو په کمپ کې ژوند کاوه.

وروسته له څو کلونو د هغې خاوند د زړې ناروغۍ لپاره سمې درملنې ته د لاسرسۍ نشتون له امله وفات شو. حکیمه له خپلو نهو ماشومانو سره د کډوالو په کمپ کې پاتې وه. هغه مالي مرستې چې هغې ترلاسه کړې د کورنۍ مصارفو پوره کولو لپاره یې بسنه نه کوله - له همدې امله هغې د وینځې په توګه کار کاوه، جامې یې وینځلې او د نورو خلکو کورونه یې پاکول. په بدل کې به هغوی ورته خواړه یا پیسې ورکولې.

"کله چې په پاکستان کې اوسېدلو او کار مو کاوه، مونږ ډیر زحمت باسته خو مونږ سره د (پاکستان) چارواکو لخوا ناوړه چلند کېده. زما مشر ماشومان د کډوالو په ښوونځي کې داخل شول. دا زما لویه هیله ده چې زما ماشومان تعلیم وکړي ترڅو خپل ژوند کې بریالي ووسي".

هغه ټولنه چې دوی پکې ژوند کاوه یوه دودیزه ټولنه وه او خلکو هغه ګواښوله چې خپله لور حمیده ښوونځي څخه وباسي. په دې حال ، حکیمې هیڅکله دوی خبره ونه منله او کوښښ یې وکړ چې لور یې زدکړې پای ته ورسولي. په ۲۰۱۵ کال کې هغوی بېرته خوست ولایت ته راستانه شول او حمیدې فرصت ترلاسه کړ ترڅو د ټولنې ښوونکې او نیمه وخت انګلیسي ښوونکي په توګه کار وکړي. د دې کورنۍ په ګډون له ۲۰۱۲ تر ۲۰۱۵ کال پورې ۳۷،۸۵۴ کسان له پاکستان څخه خوست ته راستانه شوي.

> "مونږ خوشحاله یو چې د کډوالو په کمپ کې د غربت ژوند څخه بېرته خپل وطن ته راستانه شو. وروسته له راستنېدو په خپل هېواد کې مونږ د کوربه ټولنې لخوا له تود هرکلي او ملاتړ څخه حیران شو".

* د یادونې وړ ده چې په دې کیسې کې نومونه بدل شوي او د سیمې نوم نده یاد شوی ترڅو د هغوی پېژندګلوۍ خوندي ووسي.


په پاکستان کې د دودیزې ټولنې ګواښونو سره سره حکیمې وکولای شو له خپلې لور څخه ملاتړ وکړي ترڅو هغه وکولای شي پاکستان کې خپل ښوونځۍ پای ته ورسوي او اوس وطن ته د راستنېدو وروسته وکولای شي د ښوونکې په توګه کار وکړي. © IOM ۲۰۱۸

International Organization for Migration
Route des Morillons 17
P.O. box 17
Geneva 19 1211
Switzerland

د کډوالۍ نړیوال سازمان (IOM)
کور #۲۷
سړک ۴
د انصاري څلورلاره
شهر نو
کابل، افغانستان

هغه معلومات چې په دې راپور کې کارول شوي د IOM-افغانستان سازمان او د DTM نړیوال ملاتړ ټیم په ګډې همکارۍ راټول شوي دي. هغه مسایل او توکي چې د کار په ترڅ کې کارول شوي په هیڅ بڼه د کوم هېواد قانوني حالت، ملکیت، سیمه او یا هم د هغه د چارواکو او یا مرزونو په هکله د کډوالۍ د نړیوال سازمان له هیڅ نظر یا باورونو پورې اړوند ندي.

د کډوالۍ نړیوال سازمان (© IOM ۲۰۱۸)

د لا زیاتو معلوماتو لپاره او د ډاونلوډ وړ نقشو، ډېټابېسونو، متحرکو نقشو او داشبورډونو ته د لاسرسي لپاره مهرباني وکړئ د DTM-افغانستان انټرنټي پاڼه وګورئ.

www.displacement.iom.int/afghanistan

**مونږ سره په اړیکه کې شئ**

د لا زیاتو معلوماتو لپاره مهرباني وکړئ د DTM ټیم سره په اړیکه کې شئ:

DTMAfghanistan@iom.int
facebook.com/iomafghanistan
twitter.com/iomafghanistan
instagram.com/iomafghanistan

په افغانستان کې د ډي ټي ام مالي ملاتړ کوونکي
په همغږي سره
Co-funded by the European Union
ITALIAN AGENCY FOR DEVELOPMENT COOPERATION
NORWEGIAN MINISTRY OF FOREIGN AFFAIRS
MOFAT
Canada